الدرس الثالث
آداب قضاء الحاجة

دريم درس
د قضاءحاجت آداب

(١) بيت الخلاء ته د ورتللو په وخت کښې ګسه (چپه) خپه مخکښې کول او دا دعاء وئيل سنت دى :
(بسم الله ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ)
ترجمة : شروع کوم په نوم د الله تعالي ، اے الله! پناهى غوارم په تا باندي د نارينه او زنانه شيطانانونه.
او د بيت الخلاء نه د راوتلو په وخت کښې به ښئ خپه مخکښې کړى او دادعاءبه وائي (غُفرانك) ترجمة:بخنه غوارم ستانه (اے الله!)
(٢) دځان سره به هغه څيز بيت الخلاء ته نه داخلوى چې د الله تعالي ذكر پکښې ليکلې شوى وى ، مګر که د ضائع کيدلو يا د ورک کيدلو يره وى بياجائز دى چې د زان سره ئې داخل کښې د عذر د وجې نه.
(٣) د قضائى حاجت په وخت کښې قبلې ته مخ کول او يا شا کول په صحراء کښې جائز ندى په آبادئ کښې صرف شاه ګرځول جائز دى .
(٤) د ټولو خلقو نه عورت پټول واجب دى ، پدى کښې سستى نه ده پکار ، د نارينه عورت د نامه نه تر پنډو پورى دى ، او د زنانه ټول بدن عورت دى .
(٥) د وړو بولو او يا د غټو بولو نه ځان ساتل ضرورى دى ، چې بدن او کپړى ته ونه رسيږى .
(٦) د قضائى حاجت نه پس خپل ځان په اوبو يا کاغذ يا کانړو وغيره باندى پاکول لازم دى، چې د ګندګئ څه اثرباقى پاتى نشى، او په چپ لاس باندى صفائى کول پکار دى.